رڼاګل اریوبزی

۲۰۲۳/۰۶/۲۹

# شل کلنه جګړه

## د بن لادین د سرصدقه

وايي چې دکندهار په ولايت کې د طالبانود مفتيانواوقاضيانو دفراغت له امله په جوړه شوی غونډه کې شيخ نديم وويل چې:

«هغه څوک چې نظام تخريبوي، که په ژبه وي، یا په قلم وي اوياکه عملي تخريب کوي... واجب القتل دي.»

دطالبانو دلوړوزده کړووزيرداګواښ راته په رښتياوزوروګواښ ښکاري اودځواکمنۍدليل يې هم دادی چې دعقل، پوهې، اسلامي اوبشري تمدن نه له سره بې برخي او په سوچه فزيکي زور بنا دی. حضرت علي ( ک ) فرمايي چې:

« دناپوه ماغزه دهغه دژبې ترشا اودهر هوښيار ژبه دعقل تر شاوي ».له ورځې تربله جوتيږي چې د اسلامي امارت دلوړو زده کړووزيرژبه دهغه ترعقل زوروره ،ګړندی اوبشپړه خپلواکه ده اودګړيدوپه وخت کې له سره دعقل، فکراوماغزو پروا نه ساتي. څکه چې له يوې خوا دشيخ په دې فتواکې تخريب قانوني تعريف نه لري اودنديم په بې قانونه نظام کې دهرې ساده اواصولي نيوکې نه هم « تخريب » جوړيد لی شي او هرمنتقدديوه اصولي انتقادله امله هم په دارځوړيدلی شي.له بلې خواشيخ صاحب دنظري تخريب يا دده په اصطلاح«دژبې يا قلم تخريب » اود« عملي تخريب » داغيزوترمنځ په توپيرهم نه پوهيږي، ياني په دې نه دی خبر چې دليک اوژبې نيوکه يا شفاهي اوتحريري انتقاددانسان سلامتيا، ژوند اودهغه چاپيريال ته زيان نه رسوي، خوعملي تخريب ياني وسله وال پاځون، جګړې، قتل، لوټماري، دسرکونو په غاړه اوپه جوماتونوکې دماينونو ځای په ځای کول مسلمان لمونځ کوونکي اومسافر، واړه زاره، ښځې اونران، پيغلې اوځوانان وژني اودژوند چاپيريال ورانوي، ځاني اومالي زيانونه رسوي. شيخ صاحب نديم دا ټول دتلې په يوه پله کې اچوي او په خپله فتوا کې يې يوشان واجب القتل ګڼي. مانا داچې که څوک د ځنې طالبي شيخانوپه شان دعلم زده کړه مباح عمل نه ګڼي، بلکې په هر مسلمان ) يې فرض بولي اوخپل دا نظريه ژبه اوليک دمسلمان ولس غوړوته رسوي، هرومرو ددې شيخانودتعليمی سياست سره په تضاد کې راځي، په تخريب تورن کيږي اودشيخ نديم په عدالت کې دهغه چا په شان واجب القتل ګڼل کيږي چې دلمونځ کوونکونه ډک جومات کې بمونه الوزوي .دشيخ نديم له وېناګانو ښکاري چې دی دخپل امارت دساتلو اوځواکمنولوله پاره بل تدبير-رحم، عدالت، ټولنيزه سوکالي،اقتصادي پرمختګ - اوله دې لارې دولس باوراوملاتړ ترلاسه کول نه لري، دمنتقد قتل اووژل دخپل امارت دپايښت يوازنۍ لاراو وسيله ګڼي، په دې نه پوهيږي چې دنظام دساتلو له پاره يوازې په زوراو وژلو تکيه کول سرې ددين اومعرفت له سيمې خارجوي، د ږاراوظلمت يوداسې غلام ترې جوړوي چې دحضرت عمر( ض )له دې فرمودې يې هم بې خبره ساتي چې »:دهر دولتي نظام برياليتوب او قوت دهغه دچلوونکو په عدالت، صداقت اوانصاف پورې تړلی وي.» وينو چې دشيخانوامارت دحضرت عمر( ض ) ددولتي نظام سره له ځمکې تراسمان پورې توپيرلري .په داسې حال کې چې حضرت عمر( ض ) دخپل اسلامي نظام برياليتوب او قوت دهغه دچلوونکو په عدالت، صداقت اوانصاف پورې ترې ځان اوخپل نظام دولس په وړاندې مسؤل ګڼي، شيخ نديم دحکومتولی ددې ستونځمنو، خوسپيڅلواصولوپروانه لري اونه دا اصول پيژني، دولس په وړاندې دمسؤليت فکراواحساس نه له سره بې برخې دی، ځان اونظام يې ترولس لوړبولي او دپايښت اوساتلو له پاره دقتل او وژلونډې اواساني فتواګاني صادروي او په دې ډول داراو وحشت خپروي. حضرت لقمان( ض)، چې پوهه اوحکمت يې په



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

قرآن عظیم الشان کې ستایل شوي دي، فرمایلي دي چې »:دعلم په مرسته دانسان وحشت او ډاراچونه له منځه ځي.» یانې یومتمدین، زړور اومهربان انسان ترې جوړیږي چې نه دبل چا دوحشت اوډاراچونې نه ډاریږي، نه وحشت اچوي او نه ځوک ډاروي. خو مشکل دادی چې دلوړو زده کړو وزیرښاغلی مولوي ندیم دعلم اوتمدن نه، نه یوازې ځان لرې ساتي، بلکې په وړاندې یې خپله کرکه هم نه پټوي اوپه ډاګه اعلان کوي چې:« که موداباد‌ۍ اوتمدن پروا لرله، اسامه بن لادین به مو امریکا ته سپارلی وای او ښځو ته به مو ازادي ورکړې وی اوشل کاله جګړې ته به اړتیا نه وه پیدا شوې.» زه ) ددې کرښو لیکونکی ( په خپل اوږده عمرکې په هیواد کې دنورونظامونودداسې وزیرانو دنومونوسره هم اشنا شوی وم چې دعقل اوپوهې نه یوځه بې برخې پاتې شوي ښکاریدل، خو هیڅ یو یې هم دطالبي شیخانو دلوړوزده کړووزیرپه ځیرداباد‌ۍ اوتمدن په وړاندې په دومره ویاړاوافتخار خپله بې پروایې نه ده اعلان کړې، دادشیخ ندیم تاریخي امتیازدی اومثال یې یوازې د طالبي شیخانوپه منځ کې پیدا کیدلی شي .هرمتمدن انسان په دې پوهیږي چې ابادي اوتمدن دوه یوبل ته ورته مفهومونه دي. دواړه دټولنیزژوند په بیلابیلو-اخلاقي، کلتوري، ټولنیزواواقتصادي -برخوکې دپرمختګ سطحه په برکې نیسي، سوکالي په ګوته کوي اوددې دواړو -اباد‌ۍ اوتمدن - ټاکونکی عامل انساني اخلاق،عقل اومعرفت دی .داباد‌ۍ مخالف لوری ویراني اوبربادي ده اودتمدن مخالف لوری ظلمت دی، وحشت، بربریت او بداخلاقي ده. ځوک چې داباد‌ۍ اوتمدن پروانه لري او ورته شاکوي، هرومروویراني، ظلمت، وحشت اوبربریت ته مخه کوي، داسلامي ارزښتونوچوکاټ ماتوي او داسلام مبین دین څخه وړاندې دظلمت اوبربریت دوران دبیا راژوندي کولوهلې ځلې کوي. دا هلې ځلې تخریبوونکې هلې ځلې دي اوشیخ ندیم په دې هلوځلوپه عام ذهنیت کې تربل هرچازیات خپل ځان اوخپل » اسلامي امارت« اوزموږدغمونو اورنځونوپه نړیوال مرکزبدل شوی هیواد نورهم تخریبوي .سره له دې هم دلوړو زده کړو وزیر واجب القتل نه ګڼم، ځکه دخدای رسول ( ص ) فرمایلي دي چې:« بې علمه عمل تباهي ده «.دادشیخ صاحب پوهنیزه اوعقلي بې وسي ده چې په خپل هیواد کې اباد‌ۍ اوتمدن سره مخالفت ته دامریکا په وړاندې دمقاومت په سترګه ګوري او نه پوهیږي چې داباد‌ۍ اوتمدن په وړاندې بې پروایې د ولس په وړاندې بی پروایې ده، دا جهاد نه دی، فساد دی، دالویه غداري ده اوحضرت علي ( ک ) فرمایلي دي چې »:دولس او پرګنوسره غداري ترټولولویه خطا ده.» په داسې حال کې چې درسول ( ص ) دوهم یارحضرت عمردخپل امارت په وخت کې فرمایلي دي چې:« که دفرات دسیند په غاړه دبزې یوبچی هم تلف شي، نوویریږم چې الله( ج ) به یې له مانه پوښتنه کوي.» دا هغه څه دی چې مولوي ندیم اوامسال یې په فکرکې هم نه دي .دشیخانودلوړوزده کړووزیرپه خپل عقل، عقیده اوعدالت کې دخپل هیواد ابادي، افغاني پاک لمنومیرمنوته دخدای دمخلوق اودانسانیت په سترګه کتل، هغوی ته دزده کړواوکارحق ورکول، امریکایانوته دامتیازورکولوپه مانا ګڼي، په کلکه یې غندي اودکاراوزده کړونه دافغاني جونواومیرمنومحرومول امریکایانواونورې کفري نړۍ ته جزاورکول بولي .داخولا پریږده، شیخ ندیم په دې هم ویاړي چې دهیواد پاکه خاوره، دملک ابادي، داوږدو، بې رحمه جنګونواووحشي لوټماریوځپلي ولس ارامي اوسوکالي له یوه بن لادین نه قربان کړي، ټپي، په وینولړلي اولوټ شوي ولس ته شاکړي اوپه ځای یې بن لادین ونازوي اوله ملکه یې ونه باسي. په هغه وخت کې دطالبانورسمې پالیسي په پاکستان کې ددوی سفیرمولاناضعیف دژورنالستانو سره په یوه مرکه کې په دې ټکو بیان کړه »:ترهغوچې یوافغان هم ژوندی وی بن لادین به له هیواده ونه باسی «.دابې تدبیره سرزوري اونن سبادشیخ ندیم ویناګانې اودزده کړو په هکله دده عملي کړنلارې ښیي چې افغان ولس ته دهیوادوال اودخدای دمخلوق په سترګه نه، بلکې د شخصي مال په سترګه ګوري، هرڅه یې چې زړه وغاړي په ولس یې تحمیلوي، ترهرڅه اوله هرچایې قربانوي .

هو، لکه څنګه چې شیخ ندیم وایي طالبانوهغه وخت هم دملي ګټو، تمدن اوپرمختګ پرواونه کړه، بن لادین یې له ملکه ونه ایست او په دې توګه یې هغه پلمه چې دبوش حکومت دجنګ له پاره له سره لټوله طالبانو پخپل لاس وروسپارله .سی آی ای په تلوار د شمالی ټلوالی بګیل شوی سروالان او ځنی نورمات شوی جنګسالاران په یوځو ملیونو ډالرورا ونیول، له ځان سره یی ملګری کړل او د ۲۰۰۱ میلادی کال داکتوبردمیاشتی په اوومه نیټه یی په افغا نستان وسلوال برید وکړ .شیخ ندیم اوانډیوالان یې د طالبانوپه امارت باندې دامریکا ددې بریددپایلوپه هکله څه نه وایي اوهغه پټې ساتي .خوحقیقت دادی چې دطالبانو بې تدبیره سرزوری دامریکا دجنګي تکنالوژۍ -ب ۵۲ جنګي الوتکواوکروز راکټونو- زورنه درلوداوزرمات شول. امریکایانو دطالبانو امارت وران کړاودولتي واک یې دحامد کرزی دچپنی تر سیوری لاندی دشمالی ټلوالی پیژندل شوو لوټمارانو اوجنګسالارانو ته وسپاره .دی وضعت ته په کتو سره د طالبانوپه سرکې پخوانۍ مستي پاتې نه شوه اودې ته راضي شول چې د سیاست نه لاس واخلی او بیرته خپلو کورونو، مدرسو او جوماتونو ته مخه کړی، خوامریکایانو او دهغوی لاس پوڅوداهم نه ورسره منله .ډاکټر فاروق اعظم په ۲۰۱۶ میلادی کال کی د کابل په ارګ کی دوخت لوړپوړو دولتی چارواکو ته په یوه وینا کی وویل چی:«طالبان مات شول او عذر یی کاوه چی موږ مات یو، موږ پریږدی خپلو کورو ته چی ژوند وکړو......کرزی صاحب چی اوس به زما خبری اوری راته وویل چی ماته راغلل اوویی ویل چی موږ په حکومت کی چوکی نه غواړو خو په کورکی مو پریږدی، خوموږ پری نښودل......خالد پښتون ماته کیسه وکړه چی په کوټه کی ۱۶ تنه د طالبانو مشران....ماته راغلل او ویی ویل ، موږ نه غواړوپه پاکستان کی ژوند وکړو، موږ دپاکستان سره تجربه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لرو، په حکومت کی هم چوکی نه غواړو.......ما کندهارته راوستل او امریکایانو ته معرفی کړل، هغوی بوتلل ګوانتاناموته وبګرام ته او په کلونو یی په زندان کی تعذیب کړل او ځنی یی هلته مړه شول.» امریکایی پوه او پخوانی ډیپلومات بارنټ روبین هم دا تاریخی ټکی په ګوته کړی دی او طالبانو ته یی په یوه پرانستی لیک کی لیکلی دی چی:« د ۲۰۰۱ میلادی کال د ډسمبر په شپږمه نیټه ستاسی مشرانو دحامد کرزی سره یو تړون وکړ، څوک چی تازه دملګرو ملتونو په منځګړتوب د بن په کنفرانس کی دافغانستان دانتقالی حکومت مشر ټاکل شوی و، تاسی په اوربند باندی ورسره موافقه وکړه او دکرزی حکومت ته مو هغه څلور ولایتونه وروسپارل چی تاسی لاباندی واکمن واست .تاسی په ځواب کی دحکومت څخه دځانګړو حکومتی مناصبو غوښتنه هم ونه کړه، یوازی مو معافیت وغوښت چی تاسی یی په ترځ کی وکولی شی چی باعزته ژوند وکړی، د جورج ډبلیو بوش اداری دافغانستان دنوی دولت په تشکیل کی ستاسی دګډون مخه ونیوله ، دامریکا دفاع وزیردونالدرمسفیلډ اعلان وکړ چی ستاسی سره به نه دمذاکراتو لارغوره کوی او نه به در ته معافیت درکوی .......او دهغه وخت مرستیال ولس مشرامروکړچی دغه کسان دی په ګوانتاناماوبګرام کی بندیان شی ».په حقیقت کي دهغه په اصطلاح سیاست پایله، چې شیخ ندیم په ویاړي، داشوه چې امارت یې وران شو، په لنډه موده کي یې په افغانستان دبن لادین دساتنې وس هم له لاسه ورکړاوهغه پاکستان ته وتښتید .طالبان نه یوازې له سره دسیاست نه تیریدوته مجبورشول، بلکې دخپلو کورونو، جوماتون، اودمدرسوواک یې هم له لاسه ووت. امریکایان اودهغوی افغاني غلامان دځواکمنۍ په نیشه کې تردې حده ډوب ووچې دطالبانو سره یې له سره سیاسي چلند نه کاوه، ټولوته یې دجنایتکارانو په سترګه کتل، په خپلو کورونوکې یې دساده اوغیرسیاسي ژوند اجازه هم نه ورکوله، دګوانتناماوبګرام زندانونه یې ترې ډک کړل، په زرګونونورطالبان په لیلی دشته کې دسي آی اې نماینده ګانو په شتون کې د دوستم اوشمالي ټلوالي دجنګي جنایتکارۍ قرباني شول اوافغانستان اشغال شو .داهرڅه چې وشول دطالبانو دسرزورۍ اودبې تدبیره سیاست لومړۍ پایله اودبن لادین دسر صدقه وه، نورجنګونه اودهغوی زیانونه ورپسې راروان وو. لامل یې دا وچې امریکایانو نه یوازې دطالبانوسره سیاسي چلند ونه کړبلکې په افغانستان کې یې له سره سیاست ته شاکړه او په نظامي زور، وحشت اوفاسدوافغاني زورواکانویې ډډه ولګوله. هدفي وژنې یې پیل کړې، په وادونواودمړو په جنازویې بمبارۍ کولې، په شپنیوعملیاتوکې یې دهیڅ ډول افغاني اوانساني ارزښتونو پروا نه ساتله، ښځې، کوچنیان اوزاړه یې ځورول اوبې عزته کول، ډله ایزې وژنې اودمړوجسدونوته یې سپکاوی وکړ. له بلې خواهلته په دولتي دستګاه کې بدواخیستنو، دمځکو غضبونو، ددولت دمالي سرچینولوټونواونوروفسادونوبې ساري زورواخیست اوافغانستان په ډیره لنډه موده کې دنړۍ دترټولو فاسدودولتونوسردارشو .دحکومتولۍ مسؤلیتونواومکلفیتونوارزښت له لاسه ورکړ، بابیزه شول اوغضب، بډې، لوټماري دچارواکواوزورواکوپه په اساسي دندو بدلې شول. په ټول هیواد کې ددولتي چارواکواوزورواکوترمنځ په دولتي مقامونواودفسادپه نوروسرچینوسیالۍ پیل شوې چې کله کله په وسله والو جګړوهم اوښتې، سیمه ایززورواکان اوپه سیمه پورې تړلي مرکزي چارواکان ځواکمن کیدل اودمرکزي حکومت زوراوځواک اوبه کیده .خبره دیته ورسیده چې ملا تره خیل اواله ګل مجاهد،چې دترلاس لاندې سیمو یې دکابل ښارسره ګډې پولې درلودې، دکابل حکومت ددولتي واک انحصارپه رسمیت نه پیژانده .په دې توګه له امریکا واردشوې اوپه زوربناشوې ډیموکراسۍ نه داسې بې سارې فاسدالطوایفي جوړه شوه چې له سره یې دځوشیبوله پاره هم دخپلواک ژوند وس نه درلود .داشغالي ځواکونو، دولتي چارواکواوزورواکوزوراوزیاتي اوحتی دهیواد په ځینوبرخوکې نژادي تصفیې اونسل وژنې خلک دې ته مجبورکړل چې طالبانو ته سیمه یوسې اوورسره ملګري شي. دې حالت طالبانوته نوی ژونداونوې اینرژي ورکړه چې په مرسته یې شل کاله وجنګیدل اوپه پای کې یې اشغالګرله ملکه وایستل .دافغانستان نه دبهرنیوتل لاپای ته نه وررسیدلې چې کورني لوړپوړي دولتي چارواکان اوزورواکان دخپلوکړنوله ویرې ډله ډله په ټیټوسترګواوټیټوسرونو په بیړه له ملکه وتښتیدل .هیواد دبهرنیواشغالګرانواودکورنیوفاسدوزورواکانونه ازادشواودطالبانوپه منګول کې پریوت او په دې ډول داشل کلنه جګړه چې شیخ ندیم ورته ګوته نیولې ده پای ته ورسیده .عام ولس دبهرنیواشغالګروپه وتواودکورنیوفاسد لوټمارانوپه ورک کیدو پسې ملال نه شواودطالبانوپه راتګ چندان خوشال نه شو .ددې شل کلنې جګړې په بهیرکې عامولس ته ډیرزیانونه ورسیدل، ډیرظلمونه یې وګالل اوډیرغمونه وزغمل.دکارپوهانو په اند په دې جګړه کې ټول ۲۳۶۱۵۴ افغانانوژوند له لاسه ورکړ. په دې کې ۱۲۰۰۰۰طالبانوو، ۶۷۰۰۰ افغاني سرتیري اوپولیسان وو، ۵۰۱۵۴ ولسي وګړي ووچې نه په طالبانو اونه دهغوی په مخالفانو پورې تړلي وو .دادبن لادین دسردوهمه صدقه وه چې شیخ ندیم یې پروا نه درلوده اونه یې لري. په دي شل کلنه جګړه کې یوازې ۳۸۴۶ بهرني سرتیري وژل شوي دي .داپه دې ماناچې دهربهرني سرتیرې په سرمو ۶۱ افغانان له لاسه ورکړي یانې وژل شوي دي. که دوژل شووبهرنیوشمیردوژل شووطالبانودشمیرسره پرتله کړونودهربهرني په سرموخه دپاسه ۳۱طالبان له لاسه ورکړي دي .داشغالګرودځاني زیانونو لږوالی دوه غټ لاملونه لري: اول داچې دطالبانوسره په جګړه کې به یې افغاني سرتېري دجګړې لومړۍ کرښې ته ورلیږل اودوهم داچې دطالبانو په ضد جګړه کې یې دمډرن جنګي تخنیک – عصري جنګي الوتکو، بې پیلوټه الوتکو، درنوتوپونو، ټانکونونه کاراخیست .په جګړوکې دمعاصرجنګي تخنیک موخه همداده چې دخپلوسرتیروژوندوساتي اومقابل لورته زیات ځاني اومالي زیانونه ورسوي .طالبانوجنګي تخنیک ته په دې کمیت اوکیفیت لاس رسي نه درلوده. دوی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دجبهې اوپارټيزني جګړوترڅنګ ددښمن په ضد دسرکونو په غاړه ماينونه ښخول اوځانمرګي بريدونه يې کول چې پکې بهرنيوته ډيرلږ اوياهيڅ زيانونه نه رسيدل اوله سره افغانان پکې وژل کيدل .معاصرتخنيک، چې دبشري پوهې دتکنالوژيکي کاروني پايله ګڼل کيږي، نه يوازې په جګړوکې بلکې دبشري ژوند دټولو – ټولنيزو، اقتصادي، پوهنيزو، روغتيايي ـ اونوروبرخوپه پرمختک اوسمون کې ټاکونکی رول لوبوي اوترډيره دولسونو برخليک ټاکي . خوطالبي شيخان اوتر ټولودمخه ددوي دلوړو زده کړووزيرشيخ نديم له سره دپرمختګ، تمدن اوافغان ولس دبرخليک پروا نه لري، لګيادي په هيواد کې دعصري زده کړوبنسټونه ورانوي، دجونوپرمخ دښوونځيواوپوهنځيودروازې تړي، له ښوونځيو مدرسې جوړوي او په دې توګه دعصري زده کړوتعليمي نظام بنسټونه وران اوويجاړوي اودتعليم اودښځو دحقوقو په برخه کې افغانستان داسلامي تمدن نه دوړاندنۍ – ظلمت اوبربريت – دورې په لورروانوي . شيخان په حقه و ياړي چې دافغانستان خاوره يې له بهرنيوازاده کړه، خوپه دې نه پوهيږي چې همدا امريکايان دهمدې ساينس اوتکنالوژۍ په مرسته، چې طالبان يې په افغانستان کې بنسټونه ورانوي، هره ورځ اوهره ګړۍ له هوا نه افغاني مځکه څاري اوکه وغواړي دالظواهري په شان بل نازولی هدف هم په نښه کولی اوله منځه وړلی شي . داواقعيت ښيي چې طالبان دخپل هيواد په مځکه اوفضا دواک بشپړه انحصارنه لري يانې دبشپړه ازادۍ نه بې برخې دي. له بلې خوا څه ناڅه دژوند په ټولوبرخوکې پرديومرستوته اړدي اوداړتيا بيه هم دخپلواکۍ نيمګړتياده اودانيمګړتيا دقتل په پټواګانو، دعصري زده کړو نه دځوان نسل په محروم‌ولو، دعلم، تمدن اودابادۍ په رټلوله منځه نه ځي . داسياست شته ستونځې نوره هم زياتوي، دمليونوانسانانواستعدادونه شنډوي دطالبانوامارت ته زيان رسوي اوحتی ژوند يې لنډوي، نوځکه دشيخانو مخالفين دهغوی دامارت تخريب ته چندان اړتيا نه لري، شيخ نديم، شيخ، حنفي اوامثال يې دا چارې په خپله سرته رسوي .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ